مصطفی پسرلی ۲۰۱۸/۱۰/۱۹

غزل (۱)

# د ګران وطن اصیل بچیان مو وژنی



لوبه شروع ده اتلان مو وژني
د ګران وطن اصیل بچیان مو وژني

پرون هلمند، نن کندهار ژړیږي
د ګل وطن هر یو باغوان مو وژني

د زړه بلبل نه مي مستي هیره شوه
مکار غلیم دی هر ارمان مو وژني

د سر سړي بې رانه تول ووژل
د مرګ ښپي نوم او نښان مو وژني

تل مي په اوښکو ګریوان لوند وینمه
د بې وسۍ آه و فغان مو وژني

یه "پسرلیه" موږ به کله ویش شو
ښکه بازان یو چې کارغان مو وژني؟



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com




### غزل (۲)

# موږ لوی افغانستان نه لرو

نور د غمیزو د زغم توان نه لرو　　لاړو شهید شو قهرمان نه لرو

د مرګ خپو د ژوند هدونه مات کړل　　ځکه موږ لوی افغانستان نه لرو

پردي مو سره ګلان په اور سوځوي　　سوي چمن کې نور ګلان نه لرو

د وخت چړو مو تن پرهر پرهر کړ　　خو پرهرونو ته درمان نه لرو

لا هم ژوندي سرونه ډېر لرو، خو　　د دستار وړ کوم اتلان نه لرو

که سره یو نه شو، راپورته نه شو　　بیا "پسرلیه" هېڅ ایمان نه لرو